د افغانستان د تروریزم او ډیموکراسۍ مطالعاتو مرکز

د ترهګرۍ، امنیت او ډیموکراسۍ په اړه آینده‌نګره څېړنې

له نیابتي ډلې تر دښمنۍ؟ پاکستان، طالبان او د یوې اوږدمهاله اړیکې ړنګېدل

طارق جهان

ځانګړی راپور

ډسمبر ۲۰۲۵

د افغانستان د تروریزم او ډیموکراسی مطالعاتو مرکز

د افغانستان د تروریزم او ډیموکراسی مطالعاتو مرکز (ACSTD) د افغانانو په مشرۍ یو خپلواک څېړنیز، پالیسي‌محوره او د ستراتیژیکو مشورو ورکوونکی بنسټ دی، چې د ترهګرۍ، جګړو، امنیت، ډیموکراتیک کېدو، مدني مشارکت او ټولنیز مقاومت په برخو کې تخصصي فعالیت کوي. دغه مرکز د سیمه‌ییزو واقعیتونو پر بنسټ، د افغانستان او سویلي اسیا په ځانګړي تمرکز سره، په جګړو ځپلو او زیانمنونکو چاپېریالونو کې آینده‌نګره څېړنې، پالیسي مشورې او عملي حللارې وړاندې کوي.

د افغانستان د تروریزم او ډیموکراسی مطالعاتو مرکز په برتانیا هیواد کې په رسمي توګه ثبت شوی دی (د شرکت د ثبت شمېره: SC859228). دغه مرکز د سیمه‌ییزو واقعیتونو د ژور درک، کره څېړنو او تحلیل، او نړیوالو معیارونو په رڼا کې د امنیت، ډیموکراسی او سولې د ټینګښت لپاره د هغو ملاتړ کوي چې پر شواهدو ولاړې وي.

info@acstd.org | www.acstd.org

ځانګړی راپور

ډسمبر ۲۰۲۵

د مطالبو فهرست

لنډیز 1

تاریخي شالید 2

له محدودو ترینګلتیاوو تر سختو نښتو (۲۰۲۱–۲۰۲۵) 3

الف) اپرېل ۲۰۲۲: د شدیدو نښتو لومړۍ څپه 3

ب) مارچ ۲۰۲۴: پر خوست او پکتیکا بیاځلي هوايي بریدونه 4

ج) ډسمبر ۲۰۲۴: په پکتیکا کې درانه ملکي تلفات 4

د) اګست ۲۰۲۵: په ننګرهار او خوست کې د بېپیلوټه الوتکو بریدونه 4

هـ) اکتوبر ۲۰۲۵: په کابل کې د بېپیلوټه الوتکو له بریدونو تر ښکاره وسلهوالو نښتو 4

و) د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له ۱۵مې تر ۱۸مې: پر کابل او سپین بولدک د بېپیلوټه الوتکو بریدونه 5

ز) نومبر ۲۰۲۵: د اوربند د خبرو اترو پر مهال پر پوله ډزې او تازه هوايي بریدونه 6

سیمهییز او نړیوال غبرګونونه 6

الف) چوپتیا، دوهګوني معیارونه او سلیقوي غبرګونونه 6

ب) د منځګړیتوب هڅې او د اوربند ډیپلوماسي 7

سیاسي او امنیتي پایلې 8

الف) د پاکستان ناسمه ستراتیژیکه محاسبه 8

ب) د طالبانو مشروعیت او د هېواد د دفاع لپاره د ولسي ملاتړ زیاتېدل 8

ج) د پاکستان پر کورني امنیت اغېزې 8

د) د جګړې یو بل ډګر: په رسنیو کې د ترینګلتیاوو زیاتېدل او د روایتونو جګړه 9

د دواړو لورو په ستراتیژیک وضعیت کې بدلون 9

الف) نښتې د وسلهوالو ډلو لپاره د فرصت په توګه 10

ب) د سیاسي اړیکو بدلون او د نیابتي جګړو د رامنځته کېدو احتمال 10

ج) سیمهییز قدرتونه: اندېښنې او ستراتیژیکې محاسبې 11

د) د اوږدې مودې لپاره د محدودو نښتو د دوام خطر 11

د پالیسۍ پایلې 11

الف) طالبانو ته وړاندیزونه 11

ب) پاکستان ته وړاندیزونه 12

ج) د سیمې هېوادونو او نړیوالې ټولنې ته وړاندیزونه 12

پایله 13

سرچینې 14

د لیکوال په اړه 16

لنډیز

دا ځانګړی راپور د طالبانو او پاکستان ترمنځ د ترینګلتیاوو زیاتېدل څېړي؛ هغه ترینګلتیاوې چې د ۲۰۲۵ کال په اکتوبر کې د پولې هاخوا هوایي بریدونو، د بې‌پیلوټه الوتکو بریدونو او سختو نښتو له امله خپل اوج ته ورسېدې. که څه هم د دې کړکېچ ریښې د ډیورنډ کرښې د مسئلې د نه حل کېدو او د وسله‌والو ډلو د فعالیتونو په اړه د متضادو روایتونو له امله رامنځته شوې اوږدمهالې بې‌باورۍ ته ورګرځي، خو واک ته د طالبانو له بیا رسېدو وروسته د طالبانو او پاکستان ترمنځ د دښمنۍ دومره زیاتېدل د پام وړ ده، ځکه چې د دواړو لورو اړیکې له اوږدې مودې راهیسې د یوه ملاتړي هېواد او د هغه د نیابتي ځواک ترمنځ د اړیکو په توګه پېژندل کېدې.

له ۲۰۲۲ کال راهیسې پاکستان د افغانستان پر څو ولایتونو پرله‌پسې هوایي بریدونه کړي، چې له امله یې د ښځو او ماشومانو په ګډون لسګونه ملکي وګړي وژل شوي دي. د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر نهمې هوایي بریدونه د دواړو لورو په اړیکو کې یو مهم بدلون و. دغو بریدونو د یوه نیابتي ځواک د ملاتړ پر بنسټ ولاړې اړیکې بدلې کړې او دواړه لوري یې په چټکۍ د مخامخ تقابل پر لور بوتلل. طالبانو په ځواب کې غچ اخیستونکي بریدونه وکړل، سخت سیاسي دریځونه یې خپل کړل او دغه بریدونه یې په کلکه وغندل. د قطر، ترکیې او وروسته د سعودي عربستان د منځګړیتوب له هڅو سره سره، د اوربند هوکړې څو ځله ناکامې شوې. د دواړو لورو تندو سیاسي څرګندونو هم ترینګلتیاوې لا زیاتې کړې او ویې ښودله چې د دوی اړیکې په څومره چټکۍ د خرابېدو په حال کې دي.

د دې کړکېچ تر ټولو دروند زیان ملکي وګړو ته ورسېد. سره له دې، د جیوپولیتیکو ملاحظاتو او د طالبانو د ډیپلوماټیکې انزوا له امله سیمه‌ییز او نړیوال غبرګونونه محدود پاتې شول. د ترینګلتیاوو زیاتېدو مهمې سیاسي پایلې هم لرلې. په افغانستان کې داسې ښکارېده چې طالبانو د ملي حاکمیت د مدافعینو په توګه د خلکو د یوې برخې ضمني ملاتړ ترلاسه کړی او د ټولنې د بېلابېلو قشرونو ترمنځ د پاکستان ضد احساسات په بې‌ساري ډول زیات شوي دي. په پاکستان کې بیا دغه کړکېچ د دې هېواد کورنۍ کمزورۍ رابرسېره کړې، چې د تحریک طالبان پاکستان (TTP) د بریدونو زیاتېدل او د افغانانو ضد احساساتو پراخېدل، په ځانګړې توګه د افغان کډوالو پر وړاندې، پکې شامل دي. دې وضعیت نورو وسله‌والو ډلو ته هم فرصتونه برابر کړل چې خپل فعالیتونه پراخ کړي او د پولې دواړو غاړو ته د کنټرول له کمزورۍ ګټه واخلي.

دا راپور دې پایلې ته رسېږي چې د پولې د مدیریت لپاره د یوه منظم میکانېزم له رامنځته کولو، دوامدارو ډیپلوماټیکو هڅو او د دواړو لورو له باوري ژمنو پرته به د ډیورنډ کرښه د ترینګلتیاوو له مهمو مرکزونو څخه پاتې شي. دغه ژمنې باید په افغانستان کې د یوه ټولشموله او په رسمیت پېژندل شوي حکومت پر شتون، د پاکستان د نیتونو پر روښتیا او د یوه ګاونډي هېواد په توګه د هغه پر رغنده چلند ولاړې وي. په همدې حال کې، د ترینګلتیاوو د لا زیاتېدو د مخنیوي لپاره اړینه ده چې د ملکي وګړو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړل شي، له غیرنظامي لارو چارو کار واخیستل شي او سیمه‌ییزې همکارۍ پیاوړې شي، څو دا کړکېچ په یوې پراخې جګړې بدل نه شي چې لدې سره به د سیمې ثبات له ګواښ سره مخ شي.

تاریخي شالید

ول انځور: ډیورنډ کرښه

د ډیورنډ کرښه، چې په ۱۸۹۳ کال کې د برتانیا د «سترې لوبې» پر مهال وکښل شوه، لا هم د سیمې له تر ټولو جنجالي پولو څخه ګڼل کېږي. د دې کرښې د ټاکلو موخه د نفوذ د سیمو مشخصول وو، نه د یوې دايمي نړیوالې پولې رامنځته کول. خو د وخت په تېرېدو سره، برتانوي چارواکو او وروسته پاکستان دا کرښه د یوې تثبیت شوې پولې په توګه ومنله. د ډیورنډ کرښه شاوخوا ۲۶۴۰ کیلومتره اوږدوالی لري او له پښتون او بلوڅ مېشتو سیمو تېرېږي، چې له امله یې سیمه‌ییزې ټولنې او د هغوی اوږدمهاله ټولنیزې او اقتصادي اړیکې له یو بل څخه بېلې شوې دي.

کله چې په ۱۹۴۷ کال کې پاکستان جوړ شو، افغانستان یوازینی هېواد و چې په ملګرو ملتونو کې یې د پاکستان د غړیتوب پر ضد رایه ورکړه او د پاکستان دا ادعا یې رد کړه چې ګواکې له برتانوي استعمار څخه یې د ډیورنډ کرښه د پولې په توګه په میراث اخیستې ده. پاکستان استدلال کاوه چې د ډیورنډ کرښه لا هم قانوني اعتبار لري (Omrani, 2018). خو د افغانستان مشرانو دا دریځ نه مانه او ټینګار یې کاوه چې د ډیورنډ تړون پر افغانستان تپل شوی او افغان ولس هېڅکله نه دی منلی. له همدې امله، د ډیورنډ کرښې مسئله تر اوسه ناحل شوې او له سیاسي پلوه حساسه پاتې ده. که څه هم د نړۍ هېوادونه او نړیوال بنسټونه په عملي توګه له ډیورنډ کرښې سره د یوې پولې په توګه چلند کوي، خو په رسمي ډول یې له تاییدولو ډډه کوي.

د دواړو لورو تاریخي روایتونه هم له یو بل سره ژور توپیرونه لري. پاکستاني لیکوالان، لکه ملک امیر محمد خان (۲۰۲۵)، پاکستان د داسې ګاونډي هېواد په توګه انځوروي چې په سیمه کې یې د ثبات لپاره هڅې کړې او د جګړو او کډوالۍ پر مهال یې له افغانستان سره مرسته کړې ده. خو افغان څېړونکي او د استعمار د اغېزو څېړونکي بیا بل ډول لیدلوری لري. دوی د استعماري فشارونو او د قومونو پر وېشلو ټینګار کوي. د دوی په اند، د ډیورنډ کرښه د هغه جبري بېلتون نښه ده چې اغېزې یې تر نن ورځې د پولې دواړو غاړو ته د خلکو پر ژوند محسوسېږي (Kaura, 2017؛ د جنوبي اسیا د مطالعاتو اروپايي بنسټ، ۲۰۱۸). پاکستان د ډیورنډ کرښه د خپل امنیت لپاره اړینه بولي، خو افغانستان ورته د استعمار د دورې د میراث په سترګه ګوري، چې ټپونه یې لا هم نه دي رغېدلي.

د ډیورنډ کرښې د مشروعیت پر سر له اختلافونو ورهاخوا، دا کرښه له ډېرې مودې راهیسې د ناامنۍ له مهمو مرکزونو څخه ده. د دې کرښې په اوږدو کې غرنیو او سختو لارو لرونکو سیمو د وسله‌والو ډلو، قاچاقبرانو او بې‌ځایه شویو کورنیو تګ راتګ د پولې دواړو غاړو ته اسانه کړی دی. له ۲۰۰۱ کال راهیسې پاکستان پر افغانستان تور لګولی چې د تحریک طالبان پاکستان (TTP) جنګیالیو ته اجازه ورکوي څو د افغانستان له خاورې خپل فعالیتونه ترسره کړي. بلخوا، افغانستان هم پاکستان تورن کړی چې د افغانستان پر سیاست د نفوذ لپاره د افغان طالبانو ملاتړ کوي (Jafeer & Saeed, 2020).

دغو تورونو د دواړو لورو ترمنځ بې‌باوري زیاته کړې او وخت ناوخت د غچ اخیستونکو بریدونو لامل شوي دي. له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱ کال پورې، سرحدي سیمې د ټیټې کچې پوځي نښتو پر ډګر بدلې شوې، چې په ترڅ کې یې د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو، په ځانګړې توګه خوست، پکتیکا او کونړ کې، توپچي بریدونه، هوایي بمبارۍ او وسله‌والې نښتې رامنځته شوې.

پاکستان په ۲۰۱۷ کال کې د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د اغزن تار غځولو پروژه پیل کړه، چې ورسره په سرحدي سیمو کې پوځي حضور هم زیات شو. دغه اقدام په افغانستان کې له پراخو نیوکو سره مخ شو، ځکه ډېرو خلکو دا د یوې لانجمنې پولې د رسمي کولو هڅه بلله. دې کار د خلکو تګ راتګ او د هغوی اقتصادي فعالیتونه او د ژوند د اړتیاوو پوره کولو لارې چارې هم له ستونزو سره مخ کړې (Samim, 2024).

نن ورځ د ډیورنډ کرښه یوه ناامنه او تل له ترینګلتیاوو ډکه سیمه ګڼل کېږي. د دې وضعیت په رامنځته کېدو کې استعماري تاریخ، د دواړو لورو متضاد روایتونه او د بېلابېلو وسله‌والو ډلو شتون مهم رول لوبولی دی. دا راپور د ډیورنډ کرښې حقوقي وضعیت نه څېړي، خو پر دې ټینګار کوي چې دا کرښه لا هم د سرحدي نښتو، د یاغي ډلو د تګ راتګ او ملکي وګړو ته د اوښتونکو زیانونو له مهمو مرکزونو څخه ده، په ځانګړې توګه اوس چې د طالبانو او پاکستان ترمنځ ترینګلتیاوې زیاتې شوې دي.

له محدودو ترینګلتیاوو تر سختو نښتو (۲۰۲۱–۲۰۲۵)

د ۲۰۲۱ کال په اګست کې واک ته د طالبانو له بیا رسېدو راهیسې، د ډیورنډ کرښه یو ځل بیا د سیمې له تر ټولو ناکرارو سرحدي سیمو څخه ګرځېدلې ده. که څه هم دواړو لورو څو ځله ژمنه کړې چې د پولې دواړو غاړو ته به د وسله‌والو ډلو د فعالیتونو د مخنیوي لپاره همکاري کوي، خو د دوی ترمنځ بې‌باوري په چټکۍ زیاته شوه. پاکستان طالبان تورن کړل چې د تحریک طالبان پاکستان (TTP) جنګیالیو ته یې پناه ورکړې، په داسې حال کې چې طالبانو بیا پر پاکستان تور ولګاوه چې د داعش خراسان ځانګې او نورو ډلو ته یې د فعالیت زمینه برابره کړې ده. دواړو حکومتونو دا تورونه په ښکاره رد کړل، خو د دوی تېرو کړنو د یو بل په اړه شکونه او بې‌باوري نوره هم زیاته کړه.

دې بې‌باورۍ له ۲۰۲۱ کال وروسته د دواړو لورو پر اړیکو ژور اغېز کړی دی. پاکستان د دوو لسیزو لپاره د افغانستان د پخواني جمهوري نظام پر ضد د طالبانو د وسله‌والې مبارزې ملاتړ کاوه، چې یو لامل یې له هند سره د کابل د اړیکو په اړه د پاکستان اندېښنې وې. خو اوس وضعیت په څرګند ډول بدل شوی او طالبان پر پاکستان د هماغې «دوه مخې لوبې» تور لګوي چې یو وخت یې د دوی په ګټه او د افغانستان د پخواني حکومت پر ضد کاروله.

په ظاهره داسې ښکاري چې د دواړو لورو ترمنځ نښتې د پولې د مدیریت لپاره د روښانه میکانېزمونو د نشتوالي له امله رامنځته کېږي. خو په حقیقت کې دا نښتې د پاکستان هغه ناخوښې څرګندوي چې طالبان یې غوښتنو ته غاړه نه ږدي او هغه ستراتیژیک عمق نه ور برابروي چې پاکستان یې تمه درلوده. له همدې امله، د دواړو لورو ترمنځ متقابل تورونه څو ځله په وسله‌والو نښتو بدل شوي، چې تر ټولو درونډ زیان یې ملکي وګړو ته رسېدلی دی. په لاندې برخه کې د مهمو پېښو او بریدونو بهیر په لنډ ډول څېړل کېږي.

الف) اپرېل ۲۰۲۲: د شدیدو نښتو لومړۍ څپه

که څه هم د دغو دواړو لورو تر منځ د ترینګلتیاوو د زیاتېدو د پیل کره وخت معلومول ستونزمن کار دی، خو د ۲۰۲۲ کال په اپرېل کې د شدیدو نښتو لومړۍ لویه څپه رامنځته شوه. د الجزیرې د راپور له مخې، د پاکستان هوایي بریدونو په خوست او کونړ ولایتونو کې لږ تر لږه ۴۷ ملکي وګړي شهیدان کړل او ۲۲ نور یې ټپیان کړل. په شهیدانو کې ګڼ شمېر ښځې او ماشومان هم شامل وو چې له وزیرستان څخه بې‌ځایه شوي وو. پاکستان ادعا وکړه چې دا بریدونه د اوو پاکستاني سرتېرو له وژل کېدو وروسته د تحریک

طالبان پاکستان د جنګیالیو پر ضد ترسره شوي وو. خو طالبانو دا ادعا رد کړه او بریدونه یې د افغانستان له ملي حاکمیت څخه ښکاره سرغړونه وبلله. له دغو بریدونو وروسته په خوست کې ولسي لاریونونه پیل شول. شنونکو هم څرګنده کړه چې د پاکستان بریدونه یوازې پوځي اقدامات نه وو، بلکې سیاسي پیغامونه یې هم لرل چې د دغه هېواد ناخوښي یې څرګندوله (Torelli, 2022). دغه بریدونه د هغه کال له تر ټولو خونړیو سرحدي پېښو څخه وو.

ب) مارچ ۲۰۲۴: پر خوست او پکتیکا بیاځلي هوایي بریدونه

د ۲۰۲۴ کال په مارچ کې پاکستان یو ځل بیا د افغانستان پر خاوره هوایي بریدونه وکړل. د حسین (۲۰۲۴ الف) او رویټرز د راپورونو له مخې، په دغو بریدونو کې د خوست ولایت په سپېرې ولسوالۍ او د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ کې لږ تر لږه اته ملکي وګړي، چې پنځه ښځې او درې ماشومان پکې شامل وو، شهیدان شول. پاکستان دغه عملیات «د استخباراتي معلوماتو پر بنسټ د ترهګرۍ ضد برید» وباله او یو ځل بیا یې د تحریک طالبان پاکستان (TTP) له فعالیتونو سره تړاو ورکړ. طالبانو په غبرګون کې د پولې په اوږدو کې له درنو وسلو کار واخیست، په کابل کې یې د پاکستان ډیپلوماټیک استازی احضار کړ او د «جدي پایلو» خبرداری یې ورکړ. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی پلاوي (یوناما) وروسته د ۲۰۲۴ کال له جنورۍ تر مارچ پورې د بشري حقونو د وضعیت په راپور کې د دغو بریدونو ملکي تلفات تایید کړل او د هماغې ورځې په وسله‌والو نښتو کې یې د پکتیا ولایت په ډنډ پټان ولسوالۍ کې نور ملکي تلفات هم ثبت کړل.

ج) ډسمبر ۲۰۲۴: په پکتیکا کې درانه ملکي تلفات

د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر په ۲۴مه، پاکستان یو ځل بیا هوایي بریدونه وکړل، چې دا ځل یې د پکتیکا ولایت په نښه کړ. د حسین (۲۰۲۴ ب) د راپور له مخې، په دغو بریدونو کې لږ تر لږه ۴۶ ملکي وګړي شهیدان شول. طالبانو دا برید «بزدلانه عمل» وباله او د غچ اخیستونکو بریدونو خبرداری یې ورکړ. دغه بریدونه کابل ته د یوه پاکستاني استازي له سفر څخه یوازې څو ساعته وروسته وشول، چې ورسره دا ګومانونه زیات شول چې ګواکې ډیپلوماټیکې هڅې د پوځي اقداماتو لپاره په یوه پلمه بدلې شوې دي. پاکستان په رسمي ډول د دغو بریدونو په اړه څه ونه ویل، خو بریدونه په داسې وخت کې وشول چې د تحریک طالبان پاکستان بریدونه زیات شوي وو او په یوه برید کې یې ۱۶ پاکستاني سرتېري وژلي وو. یو ځل بیا د افغانستان ملکي وګړو د پاکستان د کورني امنیتي کړکېچ بیه پرې کړه.

د) اګست ۲۰۲۵: په ننګرهار او خوست کې د بې‌پیلوټه الوتکو بریدونه

د ۲۰۲۵ کال په اګست کې راپورونه خپاره شول چې د پاکستان بې‌پیلوټه الوتکو په ننګرهار او خوست ولایتونو کې تازه بریدونه کړي دي. په طلوع‌نیوز کې د غورځنګ (۲۰۲۵) د راپور له مخې، د خوست ولایت په سپېرې ولسوالۍ کې درې ماشومان شهیدان شول او پنځه نور کسان ټپیان شول، په داسې حال کې چې د ننګرهار ولایت په غني‌خېلو ولسوالۍ کې شپږ ملکي وګړي ټپیان شول. طالب چارواکو پاکستان په مستقیم ډول د دغو بریدونو مسئول وباله او ویې ویل چې بریدونو د پام وړ ځاني او مالي زیانونه اړولي دي. دا پېښې د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ کې پخوانیو بریدونو ته ورته وې، چې له امله یې لسګونه ملکي وګړي شهیدان شوي وو.

هـ) اکتوبر ۲۰۲۵: په کابل کې د بې‌پیلوټه الوتکو له بریدونو تر ښکاره وسله‌والو نښتو

د ۲۰۲۵ کال په اکتوبر کې ترینګلتیاوې خپل اوج ته ورسېدې. د اکتوبر په نهمه، پاکستان په کابل کې د بې‌پیلوټه الوتکو په وسیله بریدونه وکړل، چې د راپورونو له مخې، د تحریک طالبان پاکستان (TTP) دوه لوړپوړي غړي پکې ووژل شول او د دې ډلې مشر نور ولي محسود هم د برید هدف و (Khattak, 2025). طالبانو دا برید د افغانستان له ملي حاکمیت څخه جدي سرغړونه وبلله او په کلکه یې وغانده. په همدې ورځ پاکستان په پکتیکا کې پر ملکي سیمو، د یوه سیمه‌ییز بازار په ګډون، هم بریدونه وکړل. څو

ورځې وروسته، د تحریک طالبان پاکستان مشر د پاکستان له خاورې څخه په یوه ویډیو کې راڅرګند شو او اعلان یې وکړ چې ژوندی دی او ډله یې د پاکستان له حکومت سره د جګړې لپاره د نورو هېوادونو خاورې ته اړتیا نه لري. د دغو بریدونو وخت هم پوښتنې راپورته کړې، ځکه بریدونه د تحریک طالبان پاکستان له هغه لوی برید څخه یوازې څو ورځې وروسته وشول چې ۱۱ پاکستاني سرتېري پکې وژل شوي وو. دغه بریدونه همدارنګه هند ته د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي له رسمي سفر سره همهاله ترسره شول.

انځور ۲: د غچ اخیستونکو عملیاتو پر مهال د ډیورنډ کرښې پر لور د طالبانو د ځواکونو خوځښت.

له ۴۸ ساعتونو څخه په کمه موده کې نښتې د پولې څو نورو سیمو ته هم وغځېدې. د [مشال راډیو او ازادي راډیو](#) (۲۰۲۵) د راپور له مخې، طالبانو ادعا وکړه چې ۵۸ پاکستاني سرتېري یې وژلي او خپل ۹ کسان یې له لاسه ورکړي دي. بلخوا پاکستان اعلان وکړ چې د طالبانو له ۲۰۰ څخه زیات ځواکونه یې وژلي او خپل ۲۳ سرتېري یې له لاسه ورکړي دي. سرحدي لارې وتړل شوې او د دواړو لورو ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې ودرېدې. د ایران، سعودي عربستان او قطر په ګډون د سیمې هېوادونو له دواړو لورو وغوښتل چې د ترینګلتیاوو له لا زیاتولو ډډه وکړي.

و) د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له ۱۵مې تر ۱۸مې: پر کابل او سپین بولدک د بېپیلوټه الوتکو بریدونه

د اکتوبر په ۱۵مه، [افغانستان انټرنشنل](#) (۲۰۲۵ الف) راپور ورکړ چې پاکستان د کابل ښار په څلورمه ناحیه کې د بېپیلوټه الوتکو په وسیله تازه بریدونه کړي، چې له امله یې لږ تر لږه پنځه ملکي وګړي شهیدان او ۳۵ نور ټپیان شوي دي. څو ساعته وروسته اوربند اعلان شو. په [افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت](#) (یوناما) هم ملکي وګړو ته د اوښتو پراخو زیانونو پخلی وکړ. تر ټولو زیات زیان سپین بولدک ته واوښت، چې ۱۷ ملکي وګړي پکې شهیدان او ۳۴۶ نور ټپیان شول. په پکتیکا، پکتیا، کونړ او هلمند ولایتونو کې هم د ملکي تلفاتو راپوروونه ورکړل شول.

اوربند ډېر دوام ونه کړ. د اکتوبر په ۱۷مه، د پاکستان په بریدونو کې د پکتیکا ولایت په ارګون او برمل ولسوالیو کې لږ تر لږه لس ملکي وګړي شهیدان شول، چې ښځې، ماشومان او د افغانستان د کرکټ درې لوبغاړي چې خپلو کورونو ته پر لاره وو هم پکې شامل وو. دغه لوبغاړي خپلو کورونو ته پر لاره وو ([The Print](#), 2025). افغانستان د دغو بریدونو په اعتراض کې په پاکستان کې د کرکټ له راتلونکو سیالیو څخه د ګډون پرېکړه بېرته واخیسته.

شنونکو ([طلوع‌نیوز](#)، ۲۰۲۵ الف) دا پوښتنه راپورته کړه چې ایا د پاکستان له لوري پر استوګنیزو سیمو پرلهپسې بریدونه د نړیوالو بشري قوانینو سرغړونه ده او ایا دغه بریدونه د احتمالي جنګي جرمونو په ډله کې راتلای شي که نه.

ز) نومبر ۲۰۲۵: د اوربند د خبرو اترو پر مهال پر پوله ډزې او تازه هوايي بريدونه

سره له دې چې په استانبول او سعودي عربستان کې خبرې اترې روانې وې، د ۲۰۲۵ کال د نومبر په شپږمه د پولې دواړو غاړو ته د ډزو له امله په سپين بولدک کې لږ تر لږه پنځه افغان ملکي وګړي، چې څلور ښځې او يو سړی پکې شامل وو، شهيدان او شپږ نور ټپيان شول (فرانس ۲۴، ۲۰۲۵؛ مجاهد، ۲۰۲۵). دواړو لورو يو بل د ډزو په پيلولو تورن کړل. ورپسې، د نومبر په ۲۵مه، پاکستان يو ځل بيا په خوست ولايت کې هوايي بريدونه وکړل، چې له امله يې يوه ښځه او نهه ماشومان شهيدان شول (دويچه‌وله، ۲۰۲۵).

دې پېښې نه يوازې د اوربند د ټينګولو لپاره د روانو هڅو نازک وضعيت څرګند کړ، بلکې د طالبانو له زياتېدونکي خپلواکۍ او د پاکستان د ستراتيژيکو غوښتنو له نه منلو څخه يې د پاکستان مخ په زياتېدونکې ناخوښي هم په ډاګه کړه. دا هغه غوښتنې وې چې پاکستان د طالبانو د وسله‌وال بغاوت او جنګ په کلونو کې له هغوی څخه د پوره کېدو تمه لرله.



شکل ۱: دا ګراف ښيي چې ملکي وګړي په وار وار د سختو پوځي نښتو په منځ کې راګير شوي دي؛ په ډېرو مواردو کې نه له مخکې خبرداری ورکړل شوی، نه يې د خونديتوب لپاره تدابير نيول شوي او نه هم د دغو بريدونو د عاملانو د حساب ورکولو لپاره کومه لاره موجوده وه.

سيمه‌ييز او نړيوال غبرګونونه

د افغانستان پر خاوره د پاکستان د پرله‌پسې بريدونو په وړاندې سيمه‌ييز او نړيوال غبرګونونه محدود او په ډېرو مواردو کې چوپتيا ته نږدې وو. سره له دې چې د پاکستان دغو اقداماتو درانه ملکي تلفات واړول، د افغانستان ملي حاکميت يې تر پښو لاندې کړ او نښتې يې لا پسې زياتې کړې، ډېرې حکومتونو پر پاکستان له مستقيمې نيوکې ډډه وکړه. د دې محتاطانه چلند لاملونه جيوپوليټيکي ملاحظات، له اسلام‌اباد سره د هېوادونو اوږدمهالې اړيکې او په افغانستان کې د داسې يوه په رسميت پېژندل شوي حکومت نشتوالی و، څو وکولای شي د نورو هېوادونو ډيپلوماټيک ملاتړ ترلاسه کړي.

الف) چوپتيا، دوه‌ګوني معيارونه او سليقوي غبرګونونه

سره له دې چې په افغانستان کې ملکي تلفات مخ په زياتېدو وو، هېڅ هېواد د پاکستان اقدامات ونه غندل. د چين، روسيې او ايران په ګډون هغه هېوادونو چې ډېری وخت ځانونه د طالبانو شريکان بولي، يوازې له دواړو لورو د زغم او له تاوتريخوالي څخه د ډډې کولو غوښتنه وکړه.

د تسنیم خبري اژانس (۲۰۲۵)، ټریبیون (۲۰۲۵)، د سعودي عربستان رسمي خبري اژانس (۲۰۲۵) او طلوع‌نیوز (۲۰۲۵ ب) له لوري خپرو شویو اعلامیو د خبرو اترو پر اړتیا ټینګار کاوه، خو د حساب ورکولو او د ملکي وګړو د خوندیتوب مسئلې ته یې پام ونه کړ. ملګرو ملتونو هم د پاکستان له مستقیم غندلو ډډه وکړه.

د طالبانو د حکومت په رسمیت نه پېژندنې هېوادونو او نړیوالو بنسټونو ته دا زمینه برابره کړه چې د ډیپلوماسۍ له پلوه د افغانستان له ملي حاکمیت څخه ښکاره سرغړونه په اسانۍ له پامه وغورځوي. د پاکستان لپاره، چې د سیمې له ډېرو هېوادونو او لوېدیځو دولتونو سره نږدې اړیکې لري، دا چوپتیا د یوه ضمني جواز په معنا وه، چې وکولای شي خپلو پوځي عملیاتو ته دوام ورکړي، پرته له دې چې نړیوال اعتبار ته یې د پام وړ زیان ورسېږي.

د غبرګونونو توپیر څرګند و. کله چې اسرائیل په دوحه کې یو دقیق هوایي برید وکړ، قطر په چټکۍ د اسلامي همکاریو سازمان او د هېوادونو مشران د دغه برید پر وړاندې غبرګون ته راوبلل او ویې کولای شول چې د پاکستان په ګډون د هېوادونو له لوري د دغه برید سخته ډیپلوماټیکه غندنه ترلاسه کړي. خو کله چې په افغانستان کې ملکي وګړي شهیدان شول، د سیمې او اسلامي هېوادونو په هماغه شان فوریت او اخلاقي قاطعیت غبرګون ونه ښود. د غبرګونونو دغه توپیر ښیي چې هېوادونه ډېری وخت د ثابتو اصولو پر ځای د خپلو سیاسي اړیکو او ګټو پر بنسټ غبرګون ښیي.

د افغانستان ډیپلوماټیکې انزوا د دغو غبرګونونو په رامنځته کېدو کې مهم رول درلود. په نړیواله کچه د یوه په رسمیت پېژندل شوي حکومت د نشتوالي او د ډیپلوماټیکو اړیکو د محدودو لارو له امله، افغانستان داسې اغېزناک میکانیزم نه درلود چې د نورو هېوادونو ملاتړ راجلب کړي، د پاکستان روایت ونګوي او یا د دغه هېواد د اقداماتو د نړیوالې څېړنې لپاره زمینه برابره کړي.

ب) د منځګړیتوب هڅې او د اوربند ډیپلوماسي

په داسې حال کې چې هند د پاکستان اقدامات په مستقیم ډول وغندل، د سیمې یو شمېر نورو هېوادونو هڅه وکړه چې د کړکېچ شدت راکم کړي. قطر، ترکیې، متحده عربي اماراتو او سعودي عربستان د اوربند د ټینګولو او د دواړو لورو ترمنځ د خبرو اترو لپاره د زمینې برابرولو په هڅو کې فعاله ونډه واخیسته. قطر د خبرو اترو د لومړیو پړاوونو کوربه و او اعلان یې وکړ چې طالبان او پاکستان پر سمدستي اوربند هوکړې ته رسېدلي دي (د قطر د بهرنیو چارو وزارت، ۲۰۲۵).

وروسته ترکیې د اکتوبر په ۲۵مه د خبرو اترو د بل پړاو کوربه‌توب وکړ. په دغو خبرو کې په دوامداره توګه د اوربند د مدیریت لپاره د یوه میکانیزم پر جوړولو او د کړکېچ د مهارولو لپاره د اړیکو پر لارو چارو تمرکز وشو (Mishra, 2025). د ډسمبر په لومړیو کې سعودي عربستان یو ځل بیا د دواړو لورو ترمنځ د خبرو اترو کوربه شو، خو دا خبرې هم له کومې هوکړې پرته پای ته ورسېدې (The Diplomat, 2025). سره له دې، پاکستان نږدې سمدستي اوربند مات کړ. د(News On Air, 2025) د راپور له مخې، د اکتوبر په ۱۸مه د ۴۸ ساعته اوربند له پای ته رسېدو یوازې څو ساعته وروسته، پاکستاني الوتکو یو ځل بیا پر پکتیکا بریدونه وکړل، چې له امله یې د افغان ورزشکارانو په ګډون یو شمېر ملکي وګړي ووژل شول. د اوربند دغې سرغړونې ډیپلوماټیکې هڅې کمزورې کړې او ویې ښودله چې اسلام‌اباد حتی د خبرو اترو پر مهال هم چمتو دی چې خپلو یو اړخیزو پوځي اقداماتو ته دوام ورکړي.

د پاکستان سیاسي دریځ هغه مهال لا سخت شو چې د دغه هېواد دفاع وزیر په ښکاره افغانستان د پاکستان «لومړی نمبر دښمن» وباله او خبرداری یې ورکړ چې که خبرې اترې ناکامې شي، ښایي د دواړو هېوادونو ترمنځ ښکاره جګړه پیل شي (الجزیره، ۲۰۲۵؛ نشنل بولټن، ۲۰۲۵). دغو څرګندونو د دواړو لورو ترمنځ باور نور هم کمزوری کړ او د ترینګلتیاوو او ښتو په زیاتېدو کې یې مرسته وکړه.

سیاسي او امنیتي پایلې

د پاکستان وروستیو پوځي اقداماتو او د طالبانو پرېکنده غبرگون د دواړو لورو لپاره پراخې پایلې لرلې. هغه څه چې د پولې دواړو غاړو ته د یو لړ بریدونو په بڼه پیل شول، په یوه سیاسي، ټولنیز او امنیتي کړکېچ بدل شول. دغه کړکېچ د خلکو نظرونه بدل کړل، د ځینو لورو دریځونه یې پیاوړي کړل او د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې یې ستراتیژیک وضعیت بدل کړ.

الف) د پاکستان ناسمه ستراتیژیکه محاسبه

پاکستان د څو لسیزو لپاره په دې باور و چې طالبان، چې د وسلهوالې مبارزې په کلونو کې یې ملاتړ ترې کړی و، له ۲۰۲۱ کال وروسته به په طبیعي ډول د دغه هېواد د امنیتي گټو په چوکاټ کې عمل وکړي. خو دا تمه ناسمه ثابته شوه. هوايي بریدونه، درانه توپچي بریدونه او سیاسي فشارونه یوازې د دې لامل شول چې طالبان پر خپلې خپلواکۍ لا ډېر ټینگار وکړي.

پاکستان د افغانستان پر خاوره په بریدونو سره، په ناپامۍ سره د طالبانو ملتپال روایت پیاوړی کړ. طالبانو ته لا ډېر سیاسي فرصت برابر شو چې ځانونه د افغانستان د ملي حاکمیت د مدافعانو په توگه معرفي کړي. په ټول افغانستان کې د پاکستان پر ضد احساسات په شدت زیات شول، ان د هغو ډلو ترمنځ هم چې پخوا یې پر طالبانو نیوکې کولې.

په پاکستان کې دننه، د ترینگلتیاوو زیاتېدو د لنډې مودې لپاره پر حکومت سیاسي فشارونه راکم کړل، ځکه د خلکو پام یې د حکومت له ناکامیو او مخ په زیاتېدونکې ناامنۍ څخه بل لور ته واړاوه. خو له ستراتیژیک پلوه دا یوه ناسمه محاسبه وه، ځکه پاکستان اوس د طالبانو له داسې حکومت سره مخ شوی چې د سیمې له هېوادونو، په ځانگړي ډول له هند سره یې اړیکې د پراخېدو په حال کې دي او د پاکستان پر وړاندې یې لا خصمانه دریځ غوره کړی.

ب) د طالبانو مشروعیت او د هېواد د دفاع لپاره د ولسي ملاتړ زیاتېدل

په افغانستان کې دننه، د پاکستان بریدونو د ملي احساساتو یوه پیاوړې څپه راوپاروله. د ډېرو افغانانو لپاره، د هغوی له سیاسي نظرونو پرته، د بهرنیو بریدونو پر وړاندې د هېواد دفاع له طالبانو سره پر کورنیو اختلافاتو لومړیتوب وموند. دې وضعیت له طالبانو سره د خلکو خواخوږي او ملاتړ زیات کړ، د دې ډلې پر کورنیو سیاستونو یې د خلکو پام او نیوکې راکمې کړې او د طالبانو هغه مخالفې ډلې یې منزوي کړې چې د پاکستان د بریدونو پر وړاندې بېتفاوتې ښکارېدې، یا داسې انگېرل کېده چې د پاکستان ملاتړ کوي. ډېرو افغانانو، په ځانگړي ډول په ټولنیزو شبکو او له هېواده بهر مېشتو افغانانو ترمنځ، دغه مخالفې ډلې «د پاکستان مهرې» وبللې.

په داسې حال کې چې طالبان تر فشار لاندې وو څو ثابته کړي چې د پاکستان نیابتي ځواک نه دی، د پاکستان بریدونو ته پرېکنده ځواب ورکول د دوی لپاره د خپلې خپلواکۍ او ملي اقتدار د ښودلو په یوه وسیله بدل شول. که طالبانو دغو بریدونو ته ځواب نه وای ورکړی، ښایي د خپلو پلویانو او د افغانستان د خلکو په نظر کمزوري گڼل شوي وای. له همدې امله، د طالبانو پوځي غبرگون د ملي عزت له مسئلې سره نږدې تړاو پیدا کړ او د دوی کورنۍ مشروعیت یې د پام وړ پیاوړی کړ. دې وضعیت همدارنگه د طالبانو دا انځور لا پیاوړی کړ چې گواکې یوازینی ځواک دی چې د افغانستان له خاورې د دفاع توان لري.

ج) د پاکستان پر کورني امنیت اغېزې

پاکستان په داسې حساس وخت کې دغو نښتو ته داخل شو چې له هند سره یې اړیکې د خرابېدو په حال کې وې او په هېواد کې دننه د وسلهوالو ډلو، په ځانگړي ډول د تحریک طالبان پاکستان(TTP) ، فعالیتونه مخ په زیاتېدو وو. د دغه هېواد پر امنیتي ادارو د خلکو باور هم، په ځانگړي ډول د خیبر پښتونخوا په قبایلي سیمو او بلوچستان کې، مخ په کمېدو و. د افغانستان پر وړاندې د جگړې د یوې بلې جبهې پرانیستلو د پاکستان پر پوځي او سیاسي وړتیاوو نور فشار هم زیات کړ.

پر دې سربېره، د تحریک طالبان پاکستان پر ضد له اقدام څخه د طالبانو ادعا شوې ډډه کول د دواړو لورو ترمنځ د یوه بنسټيز اختلاف څرګندونه کوله. دې وضعیت پاکستان د نورو بریدونو پر وړاندې لا زیانمنونکی کړ او په ورته وخت کې یې دغه هېواد د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې له یوې سختې او ترینګلې مقابلې سره مخ کړ.

په داسې شرایطو کې، د پاکستان له لوري د ننبتو زیاتول ښايي په دغه هېواد کې دننه بې‌ثباتي نوره هم زیاته کړي. د پاکستان د ناامنیو د سرچینې په توګه د افغانستان د معرفي کولو هڅه ښايي د دغه هېواد حکومت ته له سیاسي پلوه ګټه ورسوي، خو د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې او حکومتولۍ د بنسټيزو ستونزو په هوارولو کې چندان اغېز نه لري.

د) د جګړې یو بل ډګر: په رسنیو کې د ترینګلتیاوو زیاتېدل او د روایتونو جګړه

د ترینګلتیاوو زیاتېدل یوازې تر پوځي اقداماتو محدود پاتې نه شول، بلکې رسنیو او سیاسي څرګندونو ته هم په پراخه کچه وغځېدل. دواړو هېوادونو د ټولنیزو شبکو، رسمي اعلامیو او حکومت پلوه رسنیو له لارې هڅه وکړه چې عامه افکار تر خپل اغېز لاندې راولي او د خلکو ملاتړ ترلاسه کړي. د دې رسنیزې جګړې مهمې ځانګړنې د تلفاتو د شمېر په اړه متضادې ادعاوې، د جګړې د وسیلې په توګه د روایتونو کارول، د یو بل پر وړاندې احساساتي څرګندونې او سپکوونکې ژبه، او د سیمه‌ییزو شبکو او له هېواده بهر مېشتو افغانانو ترمنځ د ناسمو معلوماتو خپرول وو.

د پاکستان د دفاع وزیر او د طالبانو د ویاند ترمنځ د تندو څرګندونو تبادله، چې پکې «توره بوره» ([آصف](#)، ۲۰۲۵) او «یوازې د یوه ټویټ واک لرل» ([افغانستان انټرنشنل](#)، ۲۰۲۵ ب) یاد شول، رسنیو او د روایتونو جګړې ته د ترینګلتیاوو د غځېدو یوه څرګنده بېلګه وه.

دغو روایتونو د یوه بل پر وړاندې د خلکو دریځونه لا سخت کړل او سیاسي هوکړې ته د رسېدو فرصتونه یې راکم کړل. ویلای شو چې د روایتونو په جګړه کې د ترینګلتیاوو زیاتېدل تر ټولو خطرناک اړخ و، ځکه د دواړو لورو ترمنځ یې دښمني لا ژوره کړه، د خلکو احساسات یې راوپارول او دواړه لوري یې داسې دریځونو ته ورسول چې ورځ تر بلې ترې شاتګ ستونزمن کېده.

نځور ۳: طالبان د هغو سیاسي شنونکو ستاینه کوي چې له پاکستان سره د نښتو پر مهال یې په ښکاره د طالبانو له دریځ څخه ملاتړ کړی و.



Khawaja M. Asif
@KhawajaMAsif

While on the request of brotherly countries who were persistently being beseeched by Taliban Regime, Pakistan indulged in talks to give peace a chance, venomous statements by certain Afghan officials clearly reflect the devious and splintered mindset of Taliban regime.
Let me assure them that Pakistan does not require to employ even a fraction of its full arsenal to completely obliterate the Taliban regime and push them back to the caves for hiding. If they wish so, the repeat of the scenes of their rout at Tora Bora with their tails between the legs would surely be a spectacle to watch for the people of the region.
It is sad to see how the Taliban regime is blindly pushing Afghanistan into yet another conflict , just to retain its usurped rule and maintain the war economy that sustains them. Despite fully knowing their inherent limitations and hollowness of their war cries, they are beating the war drums to maintain their crumbling facade. If the Afghan Taliban regime is madly hellbent upon ruining Afghanistan and its innocent people once again then so be it.

نځور ۴: د پاکستان د دفاع وزیر د خپاره شوي ټویټ یوه برخه.

د دواړو لورو په ستراتیژیک وضعیت کې بدلون

دغو ټولو تحولاتو د طالبانو او پاکستان اړیکې په داسې ډول بدلې کړې چې ښايي اغېزې یې د اوږدې مودې لپاره پاتې شي. طالبان له سیاسي او پوځي پلوه په ډېر ځان‌باورۍ سره راڅرګند شول. پاکستان هم په ناپامۍ کې پر کابل د طالبانو پر حکومت خپل نفوذ

کمزوری کړ. د دواړو لورو د خلکو احساسات لا توند شول او دې وضعیت ډیپلوماتیکې هڅې نورې هم ستونزمنې کړې. سیمه‌ییز وضعیت هم لا پېچلی شو او د هند، ایران، روسیې او چین په څېر هېوادونو د دغو تحولاتو په وړاندې پر خپلو تګلارو بیاکتنه وکړه. د بادار او نیابتي ډلې ترمنځ د همکارۍ په ړنګېدو سره، وسله‌والو ډلو ته نوي فرصتونه برابر شول.

دې کړکېچ وښودله چې د فشار د وسیلو، نیابتي ځواکونو او سیاسي نفوذ په اړه پخوانۍ انګېرنې نور د تېر په څېر اعتبار نه لري. اوس دواړه هېوادونه له یوه نوي ستراتیژیک وضعیت سره مخ دي؛ داسې وضعیت چې د بې‌باورۍ له زیاتېدو، ښکاره نښتو، د وسله‌والو ډلو له پیاوړي کېدو او د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې له ژورې بې‌ثباتۍ سره مل دی.

الف) نښتې د وسله‌والو ډلو لپاره د فرصت په توګه

د تړینګلتیاوو زیاتېدل ښایي د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې فعالو یاغي او وسله‌والو ډلو ته نوي فرصتونه برابر کړي. دا خطر هغه مهال لا زیاتېږي چې یو لوری، او په ځانګړي ډول دواړه لوري، د یو بل پر ضد د نورو وسله‌والو ډلو ملاتړ او پیاوړتیا پیل کړي. دا ډول وضعیت وسله‌والو ډلو ته د نویو غړو د جذب، د فعالیتونو د پراخولو او د پولې دواړو غاړو ته د تګ راتګ د زیاتولو فرصتونه برابروي. په داسې ګډوډو او تړینګلو شرایطو کې دغه ډلې له وضعیت څخه ګټه اخلي او خپل نفوذ پراخوي. تحریک طالبان پاکستان (TTP) د وړتیاوو او فعالیتونو له پلوه ورځ تر بلې پیاوړې شوې او کولای شي له دغو تړینګلتیاوو څخه په ګټې اخیستنې خپل عملیات لا زیات کړي.

د داعش خراسان څانګه (ISKP) هم، چې د راپورونو له مخې د پولې دواړو غاړو ته فعالیت لري، د سیمې د خلکو له ناخوښیو ګټه اخلي او په ښارونو او کلیوالو سیمو کې د خپلو شبکو په کارولو سره په افغانستان او پاکستان کې بریدونه کوي. نورې هغه ډلې چې فعالیتونه یې د یوې مودې لپاره درېدلي وو، هم ښایي د بې‌ثباتۍ په زیاتېدو سره بېرته فعالې شي. دغه تحولات د یوه پېچلي او څو اړخیز جنګي وضعیت د رامنځته کېدو خطر زیاتوي؛ داسې وضعیت چې پکې دولتي ځواکونه، یاغي شبکې او سیمه‌ییز قدرتونه له یو بل سره لا ډېر ښکېلېږي.

ب) د سیاسي اړیکو بدلون او د نیابتي جګړو د رامنځته کېدو احتمال

د اوسنۍ بې‌ثباتۍ یو له مهمو لاملونو څخه د طالبانو او پاکستان ترمنځ د سیاسي اړیکو بدلون دی. دواړه لوري چې پخوا د یو بل متحدین وو، اوس ورځ تر بلې له یو بل څخه لرې کېږي. داسې ښکاري چې طالبان د بشري مرستو، اقتصادي همکاریو او محدودو ډیپلوماټیکو اړیکو له لارې هند ته د نږدې کېدو په حال کې دي. پاکستان هم په غیرمستقیم ډول د طالبانو له مخالفو افغان ډلو، د سیاسي مخالفینو او په بهر کې د مېشتو ډلو په ګډون، سره د اړیکو ټینګولو ته خپل چمتووالی ښودلی دی.

دغه بدلونونه مهمې پایلې لرلای شي. کله چې د نیابتي ډلو د ملاتړ لارې پرانیستل شي، بیا یې بندول ستونزمن وي، ان که دغه ملاتړ په غیررسمي ډول هم ترسره کېږي. پاکستان په تېر کې د خپلو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره له افغان جهادي او یاغي ډلو څخه کار اخیستی دی. اوسنی وضعیت هماغې تګلارې ته د بېرته ورګرځېدو خطر زیاتوي. په احتمالي سناریوګانو کې پر کابل د فشار راوړلو لپاره د طالبانو له مخالفو ډلو څخه د پاکستان ملاتړ، د اسلام‌اباد د مخالفو ډلو، په ځانګړي ډول د تحریک طالبان پاکستان(TTP) ، له فعالیتونو څخه د طالبانو سترګې پټول یا هغوی ته د فعالیت زمینه برابرول، او د خپلو امنیتي ګټو د خوندي کولو لپاره له بېلابېلو ډلو څخه د سیمې د نورو هېوادونو پټ ملاتړ شامل دي.

که له دواړو لورو څخه هر یو د بل پر ضد د یاغي ډلو ملاتړ ته لا ډېره مخه کړي، سیمه، په ځانګړي ډول افغانستان، ښایي یو ځل بیا د نیابتي جګړو له نوې څپې سره مخ شي.

ج) سیمه‌ییز قدرتونه: اندېښنې او ستراتیژیکې محاسبې

چین، ایران او روسیه د طالبانو او پاکستان ترمنځ زیاتېدونکو ترینګلتیاوو ته په ډېرې اندېښنې ګوري. د دغو هېوادونو ګټې یوازې د سرحدي سیمو تر ثبات پورې محدودې نه دي. دوی په سین‌کیانګ (د چین شمال لوېدیځ)، بلوچستان، منځنۍ اسیا او د ایران په ختیځ کې د وسله‌والو ډلو د فکري نفوذ او فزیکي حضور د پراخېدو په اړه اندېښمن دي. دغه هېوادونه غواړي چې افغانستان د پولو هاخوا د فعالو جهادي خوځښتونو پر مرکز بدل نشي. دوی همدارنګه په سیمه کې د امریکا د متحده ایالاتو د بیا حضور په اړه اندېښنه لري، که هغه په مستقیم ډول وي او که له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د ګډو همکاریو له لارې.

دغو اندېښنو سیمه‌ییز قدرتونه هڅولي چې په پټه دواړه لوري د ترینګلتیاوو کمولو ته وهڅوي. ایران او روسیې په ځانګړي ډول منځګړیتوب ته خپل چمتووالی ښودلی دی؛ نه له دې امله چې له کوم یوه لوري سره خواخوږي لري، بلکې له دې امله چې ګاونډیو هېوادونو ته د وسله‌والو ډلو د فعالیتونو پراخېدل د دوی خپل کورني امنیت ته هم ګواښ پېښولای شي.

د) د اوږدې مودې لپاره د محدودو نښتو د دوام خطر

سره له دې چې څو ځله اوربندونه شوي او د خبرو اترو بېلابېل پړاوونه ترسره شوي، خو د پولې د مدیریت لپاره د یوه منل شوي میکانېزم او د کړکېچ د مدیریت لپاره د یوه روښانه چوکاټ نشتوالی په دې معنا دی چې د نښتو د بیا پیل خطر لا هم لوړ دی. د پولې دواړو غاړو ته د وسله‌والو ډلو حضور د دې لامل کېږي چې ان یوه کوچنۍ پېښه، لکه د پولې په اړه ناسم پوهاوی، هم یو ځل بیا نښتې پیل کړي. که دا وضعیت دوام ومومي، سرحدي سیمې ښایي د اوږدې مودې لپاره د کم شدت پوځي نښتو پر ډګر بدلې شي. یاغي او وسله‌والې ډلې ښایي د تګ راتګ بې‌سارې ازادي ترلاسه کړي او دواړه لوري له یو اوږد او نه اړتکلېدونکي تقابل سره مخ شي.

په لنډه توګه، د طالبانو او پاکستان ترمنځ کړکېچ نور یوازې د دوو هېوادونو ترمنځ اختلاف نه دی، بلکې په یوه سیمه‌ییز امنیتي ګواښ بدل شوی چې اغېزې یې سویلي اسیا، منځنۍ اسیا او نړیواله ټولنه هم اغېزمنولای شي.

د پالیسي پایلې

دغه کړکېچ ښیي چې د یوه بادار او نیابتي ډلې ترمنځ اړیکه څنګه په چټکۍ سره پر بې‌باورۍ، ناڅاپي پایلو او پخپله د پاکستان امنیت ته پر یوه ناڅاپي ګواښ بدلېدای شي؛ داسې وضعیت چې اسلام‌اباد یې تمه نه درلوده. لاندې اقدامات کولای شي د وضعیت د لا خرابېدو په مخنیوي کې مرسته وکړي.

الف) طالبانو ته وړاندیزونه

د ټول‌شموله حکومتولۍ او د خلکو د استازیتوب له لارې د کورني مشروعیت پیاوړتیا: یوازې پوځي غبرګون نه شي کولای د طالبانو د پراخ مشروعیت تشه ډکه کړي. له پراخ سیاسي ګډون پرته، طالبان به په راتلونکو کړکېچونو کې د خلکو د اوږدمهاله ملاتړ په ساتلو کې له جدي ستونزو سره مخ شي. پیاوړی کورنی مشروعیت، چې د ښځو، ځوانانو، قومي اقلیت، مدني ټولنې او سیاسي ډلو په ګډون د افغانستان د ټولنې د بېلابېلو قشرونو پر ګډون او همکارۍ ولاړ وي، د تلپاتې ثبات لپاره بنسټیز ارزښت لري. د طالبانو د حکومت په رسمیت نه پېژندل کېدل یو له هغو مهمو لاملونو څخه وو چې هېڅ هېواد د افغانستان پر ملي حاکمیت د پاکستان تېرۍ ونه غنده.

د سرحدي امنیت پیاوړتیا او د وسله‌والو ډلو د فعالیتونو د پراخېدو مخنیوی: د پاکستان ادعاوې که سمې وي او که ناسمې، دا د افغانستان د ملي منافعو په ګټه ده چې هېڅ وسله‌والې ډلې ته اجازه ورنه کړل شي چې د ګاونډیو هېوادونو د ګواښلو لپاره د افغانستان

خاوره وکاروي. د سرحدي امنیت د ټینګښت لپاره د یوه روڼ میکانېزم رامنځته کول به د پاکستان له لوري د بریدونو لپاره وړاندې کېدونکې پلمې کمزورې کړي او د ترینګلتیاوو د زیاتېدو احتمال به راکم کړي.

په رسنیزه جګړه او د روایتونو په جګړه کې له زغم څخه کار اخیستل: د سیاسي روایتونو له لارې د خلکو راپارول ښايي په لنډمهال کې سیاسي لاسته راوړنې ولري، خو په ورته وخت کې د خلکو ترمنځ اختلافونه او وېش لا ژوروي او د جګړې او نښتو ذهنیت په یوه عادي چاره بدلوي. طالبان باید داسې ارتباطي او رسنیزې تګلارې غوره کړي چې د ترینګلتیاوو د زیاتولو پر ځای د هغو په کمولو کې مرسته وکړي، کره او واقعي معلوماتو ته لومړیتوب ورکړي او له دې ډډه وکړي چې جګړه او نښتې د یوه حتمي یا مطلوب حالت په توګه وړاندې کړي.

ب) پاکستان ته وړاندیزونه

د پولې هاخوا د هوايي بریدونو او پوځي عملیاتو بندول: د پاکستان هوايي بریدونه تل د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې، د پاکستان پر ضد د احساساتو د زیاتېدو او پخپله د دغه هېواد د امنیت د کمزوري کېدو لامل شوي دي. په افغانستان کې پوځي عملیات نه دي توانېدلي چې تحریک طالبان پاکستان (TTP) کمزوری کړي، بلکې یوازې یې د پاکستان پر وړاندې د افغانستان د خلکو دریځ لا سخت کړی دی. د ترینګلتیاوو د لا زیاتېدو د مخنیوي لپاره د یو اړخیزو بریدونو بندول اړین دي.

له طالبانو سره پر اړیکو بیاکتنه: د زور له لارې فشارونو او ښکاره ګواښونو سرچپه پایلې لرلې دي. پاکستان باید له طالبانو سره په ښه نیت او له ډیپلوماټیکو او بشري لارو تعامل وکړي، خو دا تعامل باید یوازې د ملکي وګړو د کړاوونو او ستونزو د کمولو لپاره وي، نه د طالبانو د سیاسي رسمیت پېژندنې د یوې لارې په توګه. پاکستان باید له هغو څرګندونو ډډه وکړي چې د افغانستان د سپکاوي لامل کېږي یا د یوه هېواد په توګه یې مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي. پر ځای یې باید د ملي حاکمیت د درناوي پر بنسټ د باثباته او د وړاندوینې وړ اړیکو د جوړولو هڅه وکړي. دا چې طالبان له نورو سیاسي ډلو سره پخلاینه کوي، له مخالفت سره مخ کېږي او که له واکه لرې کېږي، د افغانستان کورنۍ مسئله ده او باید د غچ اخیستنې د یوې وسیلې په توګه ونه کارول شي.

پر افغانستان د پړې اچولو پر ځای په پاکستان کې دننه د وسله‌والو ډلو فعالیتونو ته رسېدنه: د ستراتیژیک عمق د ترلاسه کولو لپاره پر وسله‌والو ډلو د څو لسیزو تکیې پاکستان ته سرچپه پایلې لرلې دي. پاکستان باید له ترهګرۍ سره د مبارزې خپلې کورنۍ ستراتیژۍ اصلاح کړي، د قانون د پلي کېدو او نظم ساتلو میکانېزمونه پیاوړي کړي او په خپل هېواد کې د یاغي ډلو د فعالیتونو د زیاتېدو پړه پر افغانستان له اچولو ډډه وکړي.

د طالبانو له مخالفو ډلو د ملاتړ ډډه کول: له افغان سیاسي مخالفینو یا په بهر کې له مېشتو ډلو سره د اړیکو ټینګول ښايي په لنډمهال کې پاکستان ته د فشار راوړلو نورې وسیلې برابرې کړي، خو دا کار د نیابتي جګړو د بیا پیل خطر زیاتوي؛ هغه جګړې چې په تېر کې په سیمه، په ځانګړي ډول افغانستان کې، د بې‌ثباتۍ لامل شوې دي. پاکستان باید نیابتي جګړو ته له بېرته ورګرځېدو ډډه وکړي او د اختلافونو او وېش د لا ژورولو پر ځای ډیپلوماسۍ ته لومړیتوب ورکړي. پاکستان یوازې په جدي هڅو او ښه نیت سره کولای شي د طالبانو او د افغانستان د ټولنې د نورو قشرونو په هڅولو کې رغنده رول ولوبوي، څو د یوه ګډ راتلونکي د جوړولو لپاره کار وکړي.

ج) د سیمې هېوادونو او نړیوالې ټولنې ته وړاندیزونه

د ترینګلتیاوو د کمولو لپاره د منظمو میکانېزمونو د رامنځته کولو ملاتړ: د قطر، ترکیې، ایران، روسیې، سعودي عربستان او چین په څېر هېوادونو د دغه کړکېچ پر مهال رغنده رول لوبولی دی. د دغو هېوادونو همکاري باید پراخې شي، څو د کړکېچ د مدیریت لپاره د مستقیمو اړیکو لارې برابرې شي او د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د دواړو لورو ترمنځ د باور رامنځته کولو لپاره عملي ګامونه واخیستل شي.

د ترینګلتیاوو د زیاتېدو د مخنیوي لپاره پر دواړو لورو د سیاسي فشار زیاتول: نړیواله ټولنه باید په دوامداره توګه له دواړو لورو وغواړي چې د پولې هاخوا له بریدونو، پاروونکو څرګندونو، د دښمنۍ له زیاتولو او د نیابتي یا یاغي ډلو له ملاتړ څخه ډډه وکړي. له دواړو لورو سره یو شان او د اصولو پر بنسټ چلند مهم دی؛ ځکه سلیقوي غبرګونونه نړیوال اصول او معیارونه کمزوري کوي او ښکېل لوري د دغو اصولو خلاف کړنو ته لا هڅوي.

د څارنې، راپور ورکولو او حساب ورکونې پیاوړتیا: ملګري ملتونه او سیمه‌ییز بنسټونه باید ملکي وګړو ته د اوښتو زیانونو څارنه او د سرحدي پېښو په اړه راپور ورکول پیاوړي کړي او د دغو پېښو د څېړلو او کره کولو لپاره د خپلواکو میکانېزمونو له رامنځته کېدو ملاتړ وکړي. دغه روڼتیا کولای شي د سرغړونو په مخنیوي او د ملکي وګړو په خوندیتوب کې مرسته وکړي.

په افغانستان کې د پراخ سیاسي ګډون هڅول: د نړۍ هېوادونه او نړیوال بنسټونه باید په افغانستان کې د یوه ټولشموله سیاسي چوکاټ د رامنځته کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي. دا موضوع یوازې د بشري حقونو مسئله نه ده، بلکې یوه ستراتیژیکه اړتیا هم ده. هغه حکومت چې له خپلو خلکو لرې شوی او منزوي پاتې وي، د بهرنیو لاسوهنو، کورنیو پاڅونونو او د اوسني کړکېچ په څېر بحرانونو پر وړاندې به ډېر زیانمنونکی وي.

د سترو قدرتونو د سیالیو پر نوي ډګر د افغانستان د بدلېدو مخنیوی: سیمه‌ییز قدرتونه باید د ترینګلتیاوو له زیاتولو او د بېلابېلو ډلو له ملاتړ څخه ډډه وکړي. اوسنی کړکېچ یوه امنیتي مسئله ده، نه د جیوپولیټیکو سیالیو د پرمخ بېولو فرصت. د افغانستان ټوټه کېدل یا د طالبانو او پاکستان ترمنځ د اوږدې مودې لپاره د تقابل دوام به د سویلي اسیا، منځنۍ اسیا او ټولې سیمې امنیت له خطر سره مخ کړي.

پایله

د طالبانو او پاکستان ترمنځ د ترینګلتیاوو زیاتېدل د تېرو څو لسیزو په اوږدو کې د دواړو لورو په اړیکو کې یو له تر ټولو جدي کړکېچونو څخه دی. هغه څه چې د پولې دواړو غاړو ته د وسله‌والو ډلو د فعالیتونو په اړه په متقابلو تورونو پیل شول، په هوایي بریدونو، د بې‌پیلوټه الوتکو په بریدونو، سختو ځمکنیو نښتو او د ملکي وګړو په پراخې مرګ‌ژوبلې بدل شول. دغه کړکېچ د بادار او نیابتي دلې ترمنځ د اوږدمهالو اړیکو محدودیتونه او بې‌ثباتي بربنډه کړه او ویې ښودله چې دوامداره بې‌باوري او د ګډ امنیتي وضعیت نازکتیا لا هم د دواړو لورو د اړیکو مهمې ځانګړنې دي.

د پاکستان بریدونو ته د طالبانو قاطع غبرګون په افغانستان کې د خلکو لیدلوری بدل کړ. د ډېرو افغانانو لپاره، د بهرني ګواښ پر وړاندې د هېواد دفاع د طالبانو له کورنۍ حکومتولۍ څخه د هغوی تر ناخوښۍ لومړیتوب وموند. په همدې حال کې، پاکستان د خپلو اقداماتو د سیاسي پایلو په محاسبه کې تېروتنه وکړه. د دغه هېواد بریدونو پر طالبانو د فشار راوړلو پر ځای د افغانانو ترمنځ ملي احساسات پیاوړي کړل، پر طالبانو یې د اسلام‌اباد نفوذ راکم کړ او د هغې پولې په اوږدو کې یې نوي خطرونه رامنځته کړل چې له وړاندې هم د وسله‌والو ډلو له فعالیتونو سره مخ وه.

سیمه‌ییز او نړیوال غبرګونونه محدود پاتې شول. دغه غبرګونونه د جیوپولیټیکو اړیکو او سیاسي همغږیو، او د افغانستان له یوه په رسمیت نه پېژندل شوي حکومت سره د تعامل د ډیپلوماټیکو بیې څخه اغیزمن وو. که څه هم قطر، ترکیې او د خلیج یو شمېر هېوادونو د اوربند د خبرو اترو لپاره د زمینې په برابرولو کې رغنده رول ولوباوه، خو د نښتو بیا پیل او د کړکېچ د مدیریت لپاره د رسمي میکانېزمونو نشتوالي دغه هڅې څو ځله کمزورې کړې. په پایله کې، سیمه لا هم د ناسمو محاسبو، له وضعیت څخه د وسله‌والو ډلو د ناوړه ګټې اخیستنې او د ترینګلتیاوو د لا زیاتېدو له خطر سره مخ ده.

د طالبانو او پاکستان ترمنځ کړکېچ په پای کې د دې ازموینه ده چې دوه پخواني متحدین، چې اوس د یو بل پر دښمنانو بدل شوي، څنګه کولای شي خپلې اړیکې په داسې شرایطو کې مدیریت کړي چې سیاسي اړیکې او ائتلافونه د بدلون په حال کې دي، متضاد روایتونه شتون لري او د پولې د مدیریت لپاره منظم میکانېزمونه نشته.

ثبات به د دواړو لورو په دې چمتووالي پورې تړلی وي چې له زورزیاتي ډکو فشارونو او پاروونکو څرګندونو څخه لاس واخلي، د ملکي وګړو ساتنه وکړي او د ناامنۍ پړه پر یو بل د اچولو پر ځای د خپلو کورنیو امنیتي ستونزو لاملونو ته رسېدنه وکړي.

له دوامدارو ډیپلوماتیکو هڅو او سیمه‌ییزې همغږۍ پرته، د ډیورنډ کرښه به نه یوازې د یوې لانجمنې پولې په توګه پاتې شي، بلکې ښايي په راتلونکي کې هم د نښتو د پیل لامل شي؛ داسې نښتې چې پایلې به یې له سرحدي سیمو ډېرې لرې وغځېږي.

سرچینې

افغانستان انټرنشنل (2025 ب)، *مجاهد د اصف ګواښونو ته: د هغه کس خبرې جدي نه ګڼو چې ټول واک یې پر یوه ټوېټ محدود وي*، (پښتو)، https://www.afintl.com/pa/202511019631.

Afghanistan International. (2025a). *Pakistan confirms airstrikes on targets in Kabul & Kandahar.* https://www.afintl.com/en/202510155917.

Aljazeera (2025), Pakistan minister warns of 'open war' with Afghanistan if peace talks fail, https://www.aljazeera.com/news/2025/10/25/pakistan-minister-warns-of-open-war-with-afghanistan-if-peace-talks-fail.

Aljazeera, (2022), At least 47 dead in Afghanistan after Pakistan attacks: Officials, https://www.aljazeera.com/news/2022/4/17/afghanistan-death-toll-in-pakistan-strikes-rises-to-47-official.

Asif. K, (2025), tweet on sending Taliban back to caves with their tails between their legs, ostensibly comparing them to dogs. https://x.com/KhawajaMAsif/status/1983426574272868408.

BBC, (2025), Hamas claims leadership survived Israeli attack in Doha, but confirms six deaths, https://www.bbc.co.uk/news/articles/ced58zywdwno.

DW, (2025), Pakistan strikes Afghanistan, kills 9 children, Taliban says, https://www.dw.com/en/pakistan-airstrike-afghanistan-khost-taliban/a-74874535.

European Foundation for South Asian Studies (EFSAS). (2018). *The Durand Line: A razor's edge between Afghanistan and Pakistan.* European Foundation for South Asian Studies. https://www.efsas.org/publications/study-papers/the-durand-line-a-razors-edge-between-afghanistan-and-pakistan/

France 24 (2025). *5 killed in Afghan-Pakistan border fire despite peace talks:* https://www.france24.com/en/live-news/20251106-5-killed-in-afghan-pakistan-border-fire-despite-peace-talks-official.

Ghorzang, S. (2025). *Pakistan airstrikes hit Nangarhar and Khost, civilians killed, injured.* TOLOnews. https://tolonews.com/afghanistan-195570.

Hussain, A. (2024b). *Pakistan air strikes in Afghanistan spark Taliban warning of retaliation.* Al Jazeera. https://www.aljazeera.com/news/2024/12/25/pakistan-air-strikes-in-afghanistan-spark-taliban-warning-of-retaliation.

Hussain. A. (2024a), Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan, Aljazeera, https://www.aljazeera.com/news/2024/3/18/pakistan-launch-retaliatory-strikes-inside-afghanistan-raising-tensions.

Jafeer, Q., & Saeed, S. (2020). *Pakistan and Afghanistan's claims over Durand Line: An analysis. Pakistan Journal of History and Culture, 41*(2), 234–249. https://pjhc.nihcr.edu.pk/wp-content/uploads/2021/07/13.-Historical-analysis-of-Pakistan-and-Afghanistanrevised-Qurratulain-Sadia.pdf.

Kaura. V, (2017), The Durand Line: A British Legacy Plaguing Afghan-Pakistani Relations, https://www.mei.edu/publications/durand-line-british-legacy-plaguing-afghan-pakistani-relations.

Khan, M. A. M. (2025). Pakistan–Afghanistan relations: A historical perspective. NDU Journal, 2025, 163–178. National Defence University, Islamabad, Ministry of Defence, Pakistan. https://ndujournal.ndu.edu.pk/index.php/site/article/view/227/162.

Khattak, D. (2025). *In 'dangerous' escalation, Pakistani drone strikes kill two senior Taliban members in Kabul.* Radio Free Europe/Radio Liberty. https://www.rferl.org/a/pakistan-taliban-ttp-afghanistan-strikes-drone/33556513.html.

Ministry of Foreign Affairs of Qatar, (2025), Pakistan and Afghanistan Agree to an Immediate Ceasefire During a Round of Negotiations in Doha, https://mofa.gov.qa/en/latest-articles/statements/pakistan-and-afghanistan-agree-to-an-immediate-ceasefire-during-a-round-of-negotiations-in-doha.

Mishra. A, (2025), Afghanistan, Pakistan resume Istanbul talks to finalize ceasefire, border mechanism, The Sunday Guardian, https://sundayguardianlive.com/news/afghanistan-pakistan-resume-istanbul-talks-to-finalize-ceasefire-border-mechanism-158217/.

Mujahid, Z. [@Zabehulah_M33]. (2025). While the third round of negotiations with the Pakistani side has begun in Istanbul, unfortunately, this afternoon Pakistani forces… [Tweet]. X. https://x.com/Zabehulah_M33/status/1986455711514247508.

News On Air, (2025), Pakistan Violates Ceasefire with Airstrike in Afghanistan, Killing 10 Including Three Local Cricketers, https://www.newsonair.gov.in/pakistan-airstrike-kills-10-in-afghanistan-including-cricketers-ceasefire-collapses/#:~:text=The%2048%2Dhour%20truce%20paused,three%20locations%20in%20Paktika%20province.

Omrani, B. (2018). *The Durand Line: Analysis of the legal status of the disputed Afghanistan–Pakistan frontier. University of Miami International and Comparative Law Review, 26*(1), 75–125. https://repository.law.miami.edu/umiclr/vol26/iss1/4

Reuters, (2024), Taliban says it hit back at Pakistan after air strikes in Afghanistan kill 8, https://www.reuters.com/world/asia-pacific/pakistan-carried-out-two-air-strikes-inside-afghanistan-killed-8-people-taliban-2024-03-18/.

RFE/RL's Radio Mashaal & RFE/RL's Radio Azadi. (2025). *Fierce fighting, high number of casualties reported along Pakistan-Afghanistan border.* Radio Free Europe/Radio Liberty. https://www.rferl.org/a/pakistan-afghan-taliban-border-clashes-ttp/33557312.html.

Samim, S. (2024, April). *The Durand Line and the fence: How are communities managing with cross-border lives?* Afghanistan Analysts Network. https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/cross-border-relations/the-durand-line-and-the-fence-how-are-communities-managing-with-cross-border-lives/.

Saudi Press Agency, (2025) Saudi Arabia Voices Concern over Border Tensions between Pakistan and Afghanistan, https://www.spa.gov.sa/en/N2418933.

Tasnim News Agency, (2025), Iran Urges Pakistan, Afghanistan to Exercise Self-Restraint, https://www.tasnimnews.com/en/news/2025/10/12/3421250/iran-urges-pakistan-afghanistan-to-exercise-self-restraint.

The Diplomat, (2025), Saudis Also Fail to Defuse Pakistan-Afghan Taliban Crisis, https://thediplomat.com/2025/12/saudis-also-fail-to-defuse-pakistan-afghan-taliban-crisis/.

The National Bulletin, 2025, Pakistan Defense Minister Calls Afghanistan 'No.1 Enemy', Labels Them 'Traitors' in Major Escalation, https://thenationalbulletin.in/pakistan-defence-minister-calls-afghanistan-no1-enemy-labels-them-traitors-in-major-escalation.

The Print. (2025). *Afghanistan pull out of tri-series involving Pakistan after killing of Afghan players in Paktika.* The Print. https://theprint.in/sport/afghanistan-pull-out-of-tri-series-involving-pakistan-after-killing-of-afghan-players-in-paktika/2766794/.

The Tribune, (2025), China calls on Pakistan, Afghanistan to end conflict, https://www.tribuneindia.com/news/world/china-calls-on-pakistan-afghanistan-to-end-conflict/.

Tolonews, (2025a), Targeting Civilians and Athletes: Experts Call Out Pakistan for War Crimes, https://tolonews.com/afghanistan-196195.

Tolonews, (2025b) Regional Support for Afghanistan–Pakistan Ceasefire, https://tolonews.com/index.php/afghanistan-196223.

Torelli, C. (2022, April 22). *Pakistani airstrike leaves 47 civilians dead, 22 injured in Afghanistan's Khost and Kunar provinces.* Action on Armed Violence (AOAV). https://aoav.org.uk/2022/pakistani-airstrike-leaves-47-civilians-dead-22-injured-in-afghanistans-khost-and-kunar-provinces/.

United Nations Assistance Mission in Afghanistan, (2024), Update on the human rights situation in Afghanistan: January - March 2024 update, https://unama.unmissions.org/sites/default/files/human_rights_update_march_2024_engf.pdf.

United Nations Assistance Mission in Afghanistan. (2025). *UNAMA welcomes Afghanistan-Pakistan ceasefire, urges protection of civilians.* https://unama.unmissions.org/unama-welcomes-afghanistan-pakistan-ceasefire-urges-protection-civilians.

د لیکوال په اړه

طارق جهان د افغانستان د تروریزم او ډیموکراسۍ مطالعاتو مرکز (ACSTD) بنسټګر او رییس دی. نوموړی اوسمهال د سنټ انډروز په پوهنتون کې د دوکتورا پر زده‌کړو بوخت دی او څېړنه یې د افغانستان په جګړه کې پر ستراتیژیکو اړیکو راڅرخي. د هغه څېړنیز تمرکز د ترهګرۍ، یاغیتوب او افراطیت څېړنه رانغاړي. طارق تر دې وړاندې د افغانستان له پخواني حکومت سره کار کړی او همدارنګه یې په خصوصي سکتور کې د نړیوالې پراختیا په برخه کې دنده ترسره کړې ده.